د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او د ښوونکو د روزنې معینیت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تالیف لوی ریاست

# د رسامۍ هنر

## پنځم ټولګی



د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ ش



درسي کتابونه د پوهنې په وزارت پورې اړه لري،
اخیستنه او خرڅونه یې په کلکه منع ده.
له سر غړونکو سره قانوني چلند کیږي.

moe.curriculum@gmail.com



# ملي سرود

دا وطن افغانستان دی
کور د سولې کور د تورې
دا وطن د ټولو کور دی
د پښتون او هزاره وو
ورسره عرب، گوجر دي
براهوي دي، قزلباش دي
دا هیواد به تل ځلیږي
په سینه کې د آسیا به
نوم د حق مو دی رهبر

دا عزت د هر افغان دی
هر بچی یې قهرمان دی
د بلوڅو د ازبکو
د ترکمنو د تاجکو
پامیریان، نورستانیان
هم ایماق، هم پشه یان
لکه لمر پر شنه آسمان
لکه زړه وي جاویدان
وایو الله اکبر وایو الله اکبر

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

**د پوهنې وزارت**

د تعليمي نصاب د پراختيا او د ښوونکو د
روزنې معنيت
د تعليمي نصاب د پراختيا او درسي کتابونو د
تاليف رياست

# د رســامی هنر

## پنځم ټولگی

د چاپ کال: ۱۳۹۶ هـ.ش.

## مؤلفان
- محمد ظاهر طاهری
- سید انور میچنخیل
- نفیسه پوپلزی

## د بیا کتنې کمیټه
- سید انور میچنخیل
- نفیسه پوپلزی
- د سر مؤلف معاون محمد غالب الله یار

## علمي او مسلکي اډیتور
- نادر علي یوسفي د هنرونو دیپارتمنت علمي او مسلکي غړی

## د ژبې ایډیټ او ژباړه
- محمد قدوس زکوخیل

## دیني، سیاسي او فرهنګي کمیټه
- حبیب الله راحل د تعلیمي نصاب د پراختیا په لوی ریاست کې، د پوهنې وزارت سلاکار
- مؤلف مولوی عبدالوکیل

## د څارنې کمیټه
- دکتور اسدالله محقق د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ښوونکو د روزنې او د ساینس د مرکز معین.
- دکتور شېرعلي ظریفي د تعلیمي نصاب د پراختیا د پروژې رئیس.
- دکتور محمد یوسف نیازي د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف لوی ریاست سرپرست.

## طرح او ډیزاین
- محمد اشرف امین
- احمد فرهاد نوری


**د چاپ د سمون چارې**: محمد کبیر حقمل د پوهنې وزارت د نشراتو او اطلاعاتو رئیس

بسم الله الرحمن الرحیم

## د پوهنې د وزیر پیغام

د لوی خدای ډیر شکر دی چې انسان یې په احسن تقویم پیدا او هغه ته یې د خبرو کولو توان ورکړ او د علم او فکر پر ګاڼه یې سمبال کړ. ډیر درود دې وي د اسلام پر ګران پیغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ چې د انسانیت ستر ښوونکی او د رحمت، لارښوونې او روښنایی پیغام راوړونکی دی.

ښوونه او روزنه په هره ټولنه کې د بدلون او پراختیا بنسټ دی. د ښوونې او روزنې اصلي موخه د انسان د بالقوه ځواکونو فعالول او د هغه د پټو استعدادونو غوړول دي.

درسي کتاب د ښوونې او روزنې په بهیر کې یو مهم رکن بلل کیږي چې له نوو علمي بدلونونو او پرمختګونو سره اوږه په اوږه د ټولنې له اړتیاوو سره سم تالیف کیږي. درسي کتابونه باید د منځپانګې له مخې خورا بډای وي چې وکړای شي د علومو له نوو لاسته راوړنو سره مل، دیني او اخلاقي زده کړې د نوو میتودونو له لارې زده کوونکو ته ولیږدوي.

دغه کتاب چې اوس ستاسو په واک کې دی، د همدغو پورته ځانګړنو پر بنسټ چمتو او تالیف شوی دی. د پوهنې وزارت تل زیار باسي چې په هیواد کې تعلیمي نصاب او درسي کتابونه د اسلامي ښوونې او روزنې او د ملي هویت د ساتلو پر بنسټ جوړ او له علمي معیارونو، نوو روزنیزو میتودونو او د نړۍ له علمي پرمختګونو سره سم چمتو کړي. د زده کوونکو استعدادونه په ټولو اخلاقي او علمي خواوو کې وغوړوي او په هغوی کې د تفکر او نوښت توان او د پلټنې حس پیاوړی کړي. د خبرو اترو او پیرزوینې د فرهنګ دودول، د هیواد پالنې او د مینې او محبت د حس پیاوړی کول، ښېنه او پیوستون د پوهنې د وزارت نورې غوښتنې دي چې ښایي د لوست په کتابونو کې ورته پام وشي.

درسي کتابونه د ښه او مسلکي ښوونکي له درلودو پرته نشي کولای تاکل شوې موخې ترلاسه کړي. ښوونکی د ښوونې او روزنې یو مهم جزء او د ښوونې او روزنې د پروګرامونو پلي کوونکی دی. د هیواد له ژمنو او زړه سواندو ښوونکو څخه، چې د تورتم او ناپوهی په وړاندې یې جګړه خپله دنده ګرځولې، دوستانه هیله لرم چې د تعلیمي نصاب په دقیق او مخلصانه تطبیق کې د هیواد ماشومان، نجونې او تنکي ځوانان د پوهې، اخلاقو او معنویت لوړو څوکو ته ورسوي.

د هیواد د زده کړې د نظام بری د خلکو له جدي مرستو پرته امکان نه لري. له دې امله له ټولو قشرونو او د ملت له شریفو خلکو، په تیره بیا له کورنیو او د زده کوونکو له درنو اولیاوو څخه هیله لرم چې د معارف د موخو د لاسته راوړو په برخه کې له هیڅ ډول مرستې څخه ډډه ونه کړي. دغه راز له ټولو لیکوالو، پوهانو، د ښوونې او روزنې له ماهرینو او د زده کوونکو له محترمو اولیاوو څخه هیله کیږي چې په خپلو رغنده نظرونو، وړاندیزونو او نیوکو د درسي کتابونو په لاښه والي کې د پوهنې له وزارت سره مرسته وکړي.

لازمه بولم له ټولو ښاغلو مؤلفانو، د پوهنې وزارت له اداري او فني کارکوونکو او له ملي او نړیوالو بنسټونو څخه، چې د دغه کتاب په چمتو کولو، چاپولو او ویش کې یې زیار ایستلی او مرسته یې کړې، مننه وکړم.

په پای کې له لوی خدای ﷻ څخه غواړم چې په خپله بې پایه مهرباني له موږ سره د پوهنې د سپیڅلو ارمانونو په لاسته راوړلو کې مرسته وکړي. انه سمیع قریب مجیب.

د پوهنې وزیر

دوکتور اسدالله حنیف بلخي

# فهرست


| مخ | سرلیک | د لوست شمېره |
| --- | --- | --- |
| ۱ | د انار او بهي رسمول | ۱ |
| ۳ | د انار او بهي رنگه کول | ۲ |
| ۵ | لاسي کار | ۳ |
| ۷ | اصلي رنگه کونه | ٤ |
| ۹ | خیالي رسم | ۵ |
| ۱۱ | د سبزیو رسمول | ٦ |
| ۱۳ | د سبزیو رنگه کول | ۷ |
| ۱۵ | د ونې رسمول | ۸ |
| ۱۷ | خیالي رسمونه | ۹ |
| ۱۹ | د مرغانو د ښپنو رسمول | ۱۰ |
| ۲۱ | د الوتونکو د ښپنو رنگه کول | ۱۱ |
| ۲۳ | بې طرفه رنگه کونه | ۱۲ |
| ۲۵ | د هندسي انځورونو رسمول | ۱۳ |


| د لوست شمېره | سرلیک | مخ |
| --- | --- | --- |
| ١٤ | د هندسي شکلونو رنګه کول | ٢٧ |
| ١٥ | لاسي کار | ٢٩ |
| ١٦ | د غوايي د سر رسمول | ٣١ |
| ١٧ | د آس د سر رنګه کول | ٣٣ |
| ١٨ | د ګل رسمول | ٣٥ |
| ١٩ | د ګلو رنګه کول | ٣٧ |
| ٢٠ | د مرغه رنګه کول | ٣٩ |
| ٢١ | د طوطي رنګه کول | ٤١ |
| ٢٢ | د پاڼو په واسطه ټاپه کول | ٤٣ |
| ٢٣ | د ابتکاري شکلونو جوړول | ٤٥ |
| ٢٤ | ډیزاین جوړول | ٤٧ |
| ٢٥ | د ډیزاین رسمول | ٤٩ |
| ٢٦ | د ډیزاین رنګه کول | ٥١ |
| ٢٧ | د پنسل په واسطه د ډیزاینونو رسمول | ٥٣ |
| ٢٨ | د افغاني جامو رنګه کول | ٥٥ |
| ٢٩ | د تاریخي آثار رسمول | ٥٧ |
| ٣٠ | تاریخي آثار | ٥٩ |
| ٣١ | دويمه برخه دښوونځي لارښوود | ٦١ |

لوست ۱

# د انار او بهي رسمول

**موخه**: زده کوونکي به د انار و او بهي له رسمولو او پرداز کولو سره آشنا شي.


**پوښتني:**
- کله مو پر پنسل انار او یا بهي رسم او پرداز کړي دي؟
- آیا ویلای شئ چې د انار او بهي انځورونه یو له بل څخه څه توپیر لري؟



دویم انځور

**فعالیت**

لاندې انځور د تتو خطونو په واسطه پر پنسل رسم کړئ، سیوري او نورو پړاوونو ته یې ژوره پاملرنه وکړئ او بیا یې پرداز کړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده



په خپله خوښه له پورتنیو میوو څخه یوه یې په کتابچو کې رسم کړئ.

لوست ۲

# د انار او بهي رنګول

**موخه**: زده کوونکي به د بهي او انار له رسمولو او رنګولو سره اشنا شي.


**پوښتنې:**
- د انار او بهي رنګونه څه توپیر لري؟
- انار او بهي په کومو رنګونو رنګولی شئ؟



لومړی انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې لومړی انځور پر نریو خطونو رسم کړي بیا دې هغه رنګه کړي.



دویم انځور

## کورنۍ دنده

یوه میوه په خپله خوښه سکیچ او بیا یې رنګه کړئ.

لوست ۳

# لاسي کار

**موخه**: له سیمه ییزو توکو څخه د لاسي کار له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا

**پوښتنې**: • که چیرې تاسې د انار او ناک لاسي کار جوړوئ، له کومو موادو ګټه اخلئ؟

• آیا تاسې ویلای شئ چې د لاسي کار جوړول تاسو ته څه ګټه لري؟



دریم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې لومړی د لاسي کار په اړوند ژور فکر وکړي، له سیمه ییزو توکو څخه دې پخپله د انار او ناک لاسي کار جوړ کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنی دنده




تاسې د ناک او انار دلاسي کار په اړوند له مور او پلار څخه مرسته وغواړئ.

لوست ٤


# اصلي رنګونه

**موخه**: له دریو اصلي رنګونو او دهغې له ترکیب سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • له لاندې درو رنګونو څخه نور رنګونه جوړولای شئ؟
• آیا ویلای شې له دوو رنګونو (آسماني شین) له ترکیب څخه کوم رنګ په لاس راځي؟



**فعالیت:** زده کوونکي دې لاندې رنګونه سم سره ترکیب کړي، بیا دې وواېي چې تر لاسه شوي رنګونه څه نومیږي؟ د رنګونو په ترکیب کې باید ژوره پاملرنه وشي، دوه رنګونه په مساوي ډول سره ترکیب کړئ.




## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې د کتاب له مخې اصلي رنګونه د درسي کتاب له مخې په کتابچو کې رسم او په عملي ډول دې کار وکړي.

# لوست ۵

## خيالي رسم

**موخه**: له خيالي رسمونو سره او د هغې له رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

**پوښتنې:**
- آيا تاسې په خپل ذهن کې کوم رنګونه پيدا کولی شئ؟
- آيا هغه رنګونه چې ستاسې په ذهن کې شتون لري، په انځور کې عملي کوئ؟



**فعالیت**

د هغه شي اړوند چې تاسې يې فکر کړيدی، هغه د خپلو پړاووںو په پام کې نیولو سره پر کاغذ رسم او بیا يې رنګه کړئ.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده



یو خیالي شکل رسم او ټولګي ته يې راوړئ.

## لوست ٦

# د سبزیو رسمول


**موخه:** د سبزیو او د هغې د رسمولو له لارو چارو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:**
- لاندې انځور د څه شي په واسطه روښانه کولای شئ؟
- کله مو د پنسل په واسطه سبزي رسم کړېدي؟



دویم انځور

**فعالیت:** لاندې انځور د پنسل په واسطه سکیچ او بیا یې پرداز کړئ، هڅه وکړئ چې باندیني خطونه یې نري رسم او بیا یې پر پنسل روښانه کړئ.



لومړی انځور



## کورنۍ دنده

یوه سبزي په کتابچو کې رسم او د پنسل په واسطه یې پرداز کړئ.

لوست ۷

# د سبزيو رنګول


**موخه**
د سبزيو د رنګولو له لارو چارو سره د زده کوونکو بلدتيا.

**پوښتنې:** • ستاسې چاپيريال کې کوم ډول سبزي پيدا کيږي، هغه مو رسم او رنګ کړېدي؟
• ستا سو د سيمې سبزي کوم رنګونه لري؟



لومړی انځور

**فعالیت:** لاندې انځور له رسمولو وروسته په خپله خوښه رنګه کړئ، که درنګولو په وخت کې له کومې ستونزې سره مخامخ شوئ له ښوونکو مرسته وغواړئ او نظافت ته يې پاملرنه وکړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

دسبو له ډلې ځخه يو دلاسي کار په توګه جوړ او ټولګي ته يې راوړئ!

# لوست ۸ ترسیم درخت


**موخه**: دونې د رسمولو او رنګولو له لارو چارو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې**: • کله مو کومه ونه رسم او رنګه کړېده؟
• د ونې په رنګولو کې له کومو رنګونو ګټه اخلئ؟



دریم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې د لاندې انځور رسمول په پام کې ونیسي د هغې د رسمولو د پړاوو نو په پام کې نیولو سره، د ښوونکي لارښوونو ته پاملرنه وکړئ، لومړی یې په نریو خطونو رسم وروسته یې له خپلې خوښې سره سم رنګه کړئ.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده



ستاسې د کورني چاپېریال یوه ونه رسم او بیایې رنګه کړئ.

لوست ۹

# خيالي رسمونه

**موخه**

د خيالي انځورونو له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتيا.

**پوښتنې:** • څه مو چې مخکې ليدلي، هغه له خپل فکر او خيال څخه رسمولای شئ؟
• تا سې کوم انځور تر اوسه له خپل ذهن څخه رسم کړيدی؟



دريم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې په هغه انځور چې مخکې یې لیدلی دی، ځو شیبې فکر وکړي، وروسته دې هغه پړاو پر پړاو له خپلې خوښې سره پر کاغذ رسم او پرداز کړي، بیا دې هغه رنګه کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده



هغه څه مو چې په خیال کې ګرځي په کتابچه کې یې رسم او ټولګي ته یې راوړئ.

# لوست ۱۰


# د الوتونکو دپښو رسمول

**موخه**

دالوتونکو دبدن دغړو پر رسمولو او رنګولو پوهېدل.

**پوښتنې:** • تر اوسه مو دکوم الوتونکي پښې رسم کړېدي؟

• په لاندې انځور کې څه وینئ؟



دویم انځور

**فعالیت**

لاندې انځور د پړاوونو په پام کې نیولو سره په ژورې پاملرنې سره سکیچ، بیا یې پر پنسل پرداز کړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده




یومرغه انځورکړئ .

# لوست ۱۱

# د مرغانو د پښو رنګول

**موخه**: زده کوونکي به د مرغانو د بدن د غړو له رنګولو سره اشنا شي.

**پوښتنې**: • ستاسو په نظر دکومو الوتونکو د پښو رسمول اسان دي؟
• د الوتونکو دپښو په رنګولو کې له کومو رنګونو څخه ګټه اخلئ؟



دويم انځور

**فعالیت**

لاندې انځور د پړاوونو په پام کې نیولو سره رسم او رنګه کړئ، د انځور پاکی ته پاملرنه وکړئ.



لومړی انځور

**کورنۍ دنده**


دالوتونکو په اړه له خپلو لویانو سره وغږیږئ!

# ۱۲ لوست


## بي طرفه رنګونه

**موخه:** له بې طرفه رنګونو څخه د ګټې اخيستنې په لارو چارو او له هغه څخه په رنګولو کې ګټه اخيستل.

**پوښتنې:** • د بې طرفه رنګونو نومونه واخلئ؟
• آيا په ټولګي کې مو بې طرفه رنګونه ليدلي او نوم يې اخيستلای شئ؟



**فعالیت:** زده کوونکي دې له درو بې طرفه رنګونو (تور، سپین او نصواري) څخه د انځورونو په روښانولو او تیاره کولو کې ګټه واخلي، تیاره ځایونه دې پر تور رنګ او سپین ځایونه دې په سپین رنګ او د انځورونو سیورې دې پر نصواري رنګونو رنګ کړي او د ټولو رنګونو په ترکیب کې دې ور څخه ګټه واخلئ.



## کورنۍ دنده



درنګونو دارزښت په باب فکر وکړئ اوپه ټولګي کې پرې وغږېږئ !

# لوست ۱۳


# دهندسي شکلونو رسمول

**موخه**

د هندسي شکلونو له سکیچ سره د زده کوونکو آشنايي.

**پوښتنې:**


- کومو شکلونو ته هندسي شکلونه وايي؟
- کله مو هندسي شکلونه رسم او پر پنسل پرداز کړيدي؟



دویم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې د ښوونکي له تشریح وروسته یو هندسي شکل رسم او پرداز کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

یو هندسي شکل رسم او پر پنسل یې پرداز کړئ.


# ۱۴ لوست

# د هندسي شکلو نو رنګول


**موخه**

د هندسي شکلونو له رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتیا.


**پوښتنې:** • په لاندېنیو انځورونوکې کوم شکلونه وینئ نومونه یې واخلئ؟
• د لاندینیو انځورونو په یوه انځور کې کوم رنګونه لیدل کیږي؟



دویم انځور



**فعالیت:** هره ډله دې پخپله خوښه له لاندې شکلونو څخه یو رسم او رنګه کړې، وروسته دې دښوونکي له لارښوونې سره سم هغه ننداري ته وړاندې کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

یو هندسي شکل د کتاب له مخې رسم، وروسته هغه په کتابچو کې رنګه کړئ.

# لوست ۱۵

## لاسي کار

**موخه**: زده کوونکي به له بېلا بېلو پاڼو څخه د لاسي کار له جوړولو سره آشنا شي.

**پوښتنې**:
- تر اوسه مو له پاڼو کوم شیان جوړکړېدي؟
- په لاندې شکل کې څه ګورئ؟



دویم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې له وچو پاڼو لاسي کار جوړ او له خپلې خوښې سره سم دې رنګه کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده




زده کوونکي دې له کاغذ څخه لاسي کار جوړ او بیا دې ټولګي ته راوړي.

# لوست ۱۶

# د غوايي د سر رسمول


**موخه:** زده کوونکي به د حيواناتو د بدن د غړو رسمولو او پرداز سره اشنا شي.

**پوښتنې:**
- کله مو دغوايي سر رسم او پرداز کړی دی؟
- په لاندې شکل کې څه ګورئ



**فعالیت:** لاندې شکل په نریو خطونو پړاو پر پړاو رسم، وروسته یې پر نرم پنسل پرداز کړئ. د رسمولو په جریان کې، که له کومو ستونزو سره مخامخ شوی، له ښوونکي مرسته وغواړئ.

لومړی انځور





دویم انځور

## کورنۍ دنده



په خپله سیمه کې کورني حیوانات وګورئ او د غوایي د بدن یو غړی رسم کړئ.

## لوست ۱۷

# د آس دسر رنگه کول

**موخه**

د آس د سر له رنګه کولو سره د زده کوونکو اشنایي.

**پوښتنې:** • د آس د سر په رنګه کولو کې له کومو رنګونو کار اخلئ؟

• تا سو کله آس له نږدې لیدلی او د هغه د بدن غړی مو رسم کړیدي؟



دریم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې لاندې انځورونو ته په پاملرنې سره د ښوونکي له لارښوونې سره سم، هغه رنګه کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده



به خپله خوښه یو حیوان رسم او رنګه کړئ.

لوست ۱۸

# دگل رسمول

**موخه**

د گلانو له سکیچ او رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • په لاندې انځور کې څه وینئ؟

• کله مو په پنسل سره گل رسم او پرداز کړیدی؟



دویم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې لاندې انځور د ښوونکي له لارښوونې سره سم رسم او پر پنسل پرداز کړي.



لومړۍ انځور

## کورنۍ دنده



یو گل پر پنسل د کتاب له مخې رسم کړئ.

## لوست ۱۹

# دگل رنگه کول

**موخه**
زده کوونکي به د گل له رسمولو او رنگه کولو سره بلد شي.

**پوښتنې:** • آیا تاسې په کورونو کې ګلان رسموئ؟
• ستاسو د گلانو کوم رنگونه خوښیږي؟



**فعالیت**

لاندې شکل د رنګونو ترکیب ته پر پاملرنې سره رنګه کړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

یو ګل د کتاب له مخې پړاو پر پړاو په کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.

# لوست ۲۰

# د الوتونکي رنګه کول

**موخه:** زده کوونکي به د الوتونکو له رسمولو او رنګه کولو سره بلد شي.


**پوښتنې:** •کله مو یو الوتونکی رسم او رنګه کړیدی؟
• په لاندې شکل کې څه ګورئ؟




دریم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې لاندې شکل ته ښه وګوري، یو الوتونکی دې مرحله په مرحله رسم او رنګه کړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده

په خپلو کتابچو کې د کتاب له مخې یو الوتونکی رسم کړئ.

# لوست ۲۱

## دطوطي رنګه کول


**موخه**: زده کوونکي به د طوطي له رسمولو او رنګه کولو سره بلدتیا پیدا کړي.

**پوښتنې:**
- تا سو ویلای شئ چې د طوطي شکل په رنګه کولو کې له کومو رنګونو څخه ګټه اخیستل کیږي؟
- په لاندې انځور کې کوم الوتونکی لیدل کیږي، نوم یې واخلئ؟




دریم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې شکلونه پړاو پر پړاو سکیچ او رنګه کړي، په رنګونو کې دې ژوره پاملرنه وکړي او که ستونزه وي، له ښوونکي دې مرسته وغواړي.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده

د طوطي شکل د کتاب له مخې سکیچ او هغه په خپلو کتابچو کې رنګه کړئ

لوست ۲۳

# د پاڼو په واسطه ټاپه کول

**موخه**
زده کوونکي به په رنګ سره دپاڼو له ټاپه کاري سره اشنا شي.

**پوښتنې:**
- کله مو په رنګ سره د کاغذ پر مخ د پاڼو ټاپه کاري کړېده؟
- سر بیره پر لاندې شکل له پاڼو نور څه جوړېږي؟



پنځم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې هغې پاڼې چې له ځان سره راوړې، د ښوونکي له لارښوونې سره سم د رنګ او برس په واسطه پاڼه رنګ کړي، وروسته دې د کاغذ پر مخ ټاپه کاري وکړي.


دویم انځور


لومړی انځور


څلورم انځور


دریم انځور

## کورنۍ دنده

زده کوونکي دې اړوند فعالیت په کورکې تکرار کړي.



## لوست ۳۳

# د ابتکاري شکلونو جوړول

**موخه**: زده کوونکي به د الوتونکي له انځور د رنګ او پاڼې په واسطه له جوړولو سره آشناشي.

**پوښتنې**:
- آیا د ونې له پاڼو مو کله څه شی جوړ کړیدي؟
- لاندې شکل څه نومیږي او له کومو موادو جوړ شویدی؟



دویم انځور

**فعالیت:** زده کوونکي دې له هغو پاڼو څخه چې له ځان سره یې راوړې دي په خپله خوښه د هیلۍ یو ابتکاري شکل د ښوونکي له لارښوونې سره سم جوړ کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده



زده کوونکي دې له پاڼو څخه د کتاب له شکل سره سم یو لاسي کار جوړ کړي.

# لوست ۲۴

## د ډیزاین جوړول


**موخه**

زده کوونکي به دګل د جوړولو او ډیزاین لارې چارې زده کړي.

**پوښتنې:** • تاسې کولای شئ د ګل له پاڼو یو ډیزاین جوړ کړئ؟

• کله مو د ګلانو پاڼو څخه ډیزاین جوړ کړیدی؟







دریم انځور

## فعالیت

د ګل له پاڼو څخه یو ابتکاري ډیزاین جوړ کړئ.



دویم انځور



لومړی انځور

### کورنۍ دنده

پورته عملیه په کور کې تکرار کړئ.


# لوست ۲۵

# د ډیزاین رسمول

**موخه**

د پنسل په واسطه له بېلا بېلو ډیزاینونو سره د زده کوونکو بلدتیا.


**پوښتنې:** • تاسې پوهیږئ په تېرو ټولګیو کې مو پر کومو ډیزاینونو کار کړیدی؟
• که چیرې مو په ډیزاین کې مهارت پیدا کړ، له هغه څه ډول ګټه اخلئ؟



دویم انځور

**فعالیت**

زده کوونکي دې لاندې شکل ته پر خطونو پرداز ورکړي، بیا دې پړاو پر پړاو رسم کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده


یو وار بیا ډیزاینونه په کتابچو کې رسم کړئ.

# لوست ۳۶

# د ډیزاین رنګه کول

**موخه**: زده کوونکي به د ډیزاین د رنګه کولو لارې چارې سمې زده کړي.


**پوښتنې**: • آیا د هغو ډیزاینونو په هکله چې ستاسو په سیمه کې دي، معلومات ورکولای شئ؟
• د اسلامي سبک ډیزاینونه د څه لپاره په کاریږي؟



دویم انځور

**فعالیت**

لاندې شکل رسم او بیا یې رنګه کړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

پر هغو ډیزاینونو چې ستا سو په سیمه کې دي، کار وکړئ.

# ۳۷ لوست

## د پنسل په واسطه د ډیزاینونو رسمول


**موخه**: زده کوونکي به پر پنسل د ډول ډول ډیزاینونو له رسمولو او رنګولو سره بلد شي.

**پوښتنه**: پوهیږئ چې ډیزانونه په کوم ځای کې کارول کیږي؟

دویم انځور

**فعالیت**

د ډیزاین په اړوند خپل نقشه پر کاغذ طرح کړئ، هغه د کاغذ پر مخ د پاڼې څلورو خواوته ترتیب اوتنظیم کړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

له خپلې خوښې سره سم ډیزاینونه طرح او رسم کړئ.

# لوست ۲۸

## د افغاني جامو رنګول

**موخه**: د افغاني لباس له رسمولو او رنګولو سره د زده کوونکو بلدتیا.


**پوښتنې**: • کله مو افغاني جامې رسم او رنګه کړېدي
• په لاندې شکل کې څه شی وینئ؟



دویم انځور

**فعالیت**

د ښوونکي د لارښوونو په پام کې نیولو سره لاندې انځور رسم او رنګه کړئ.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

د سیمه ییزو جامو د پیژندلو په اړوند له مور او پلار څخه پوښتنه وکړئ او هغه په کتابچو کې رسم او رنګه کړئ.

لوست ۲۹

# د تاریخي آثارو رسمول

**موخه**

زده کوونکي به د خپل هیواد د تاریخي آثارو په رسمولو وپوهیږي


**پوښتنې:** • آیا تا سو کله د هېواد له تاریخي آثارو څخه کوم یو رسم او رنګه کړی دی؟




دریم انځور

**فعالیت**

لاندې شکل د نرم پنسل په واسطه رسم او رنګه کړئ.



لومړی انځور



دویم انځور

## کورنۍ دنده


د کتاب انځور ته ژوره پاملرنه وکړئ، بیا یې پر پنسل رسم او رنګه کړئ.

## لوست ۳۰

# تاریخي آثار

**موخه:** له کاغذ څخه د بُست د کلا له جوړولو سره د زده کوونکو بلدتیا.

**پوښتنې:** • د بُست د کلا لاسي کار له کومو موادو څخه جوړیږي؟
• په لاندې انځور کې څه وینئ؟



دویم انځور

**فعالیت:** هره ډله دې د بُست کلا ته په ژوري پاملرنې سره له سپین او رنګه کاغذ څخه د بُست کلا لاسي کار جوړ، وروسته دې ننداریې ته وړاندې کړي.



لومړی انځور

## کورنۍ دنده

د بُست کلا له هغو توکو چې ستا سو په واک کې دي، جوړه او بیاییې ټولګي ته راوړئ.

# دویمه برخه

## درسامي هنر د تدریس لارښود

## لوست ٤

# (۷ او ۸) مخونه

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست عنوان | اصلي رنګونه | |
| عمومي موخې | له درو اصلي رنګونو سره د زده کوونکو بلدتیا. | |
| - د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنيتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې د لوست تر پایه پورې لاندې موخې تر لاسه کړي.<br>- له درو اصلي رنګونو سره به بلدشي.<br>- درې اصلي رنګونه به سره ترکیب کړای شي.<br>- له رنګولو سره به يې مینه پیدا شي. | |
| د تدریس طریقه | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملی کار او تمرین | |
| د تدریس وسیلې | رنګ، کاغذ، مویک، د اوبو لوښې، پنسل قلم، پنسل پاک او د هنر کتاب | |
| ارزونه | د خیل ډاډ تر لاسه کولو لپاره ښوونکي له زده کوونکو څو پوښتنې کوي. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام، لنډه احوال پوښتنه، د حاضرۍ اخیستل، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې کتل او پر نوي لوست پیل کول. | ۵ دقیقې |
| | انګیزوي پوښتنه:<br>کله مو درې اصلي رنګونه سره ترکیب کړیدي؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| • د درو اصلي رنګونو نومونه زده کوونکو ته وروپېژنئ.<br>• د رنګو په ترکیب کې له هغوی سره مرسته وکړئ.<br>• د رنګونو په اړوند زده کوونکو ته څرګندونې.<br>• د دوی پوښتنو ته ځواب ورکړې.<br>• درې اصلي رنګونه د کاغذ پر مخ ترکیب کړئ. | ۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده**

په کور کې یو وار بیا درې اصلي رنګونه سره ترکیب کړئ.

**اضافي معلومات**

ښاغلي ښوونکیه: درې اصلي رنګونه: سور، ژېړ او آبي دي، د سره، او آبي رنګونو له ترکیب څخه بنفش رنګ تر لاسه کیږي. که چېرې سور، ژېړ او ابي رنګونه سره ترکیب کړو، نارنجي رنګ جوړیږي، که چېرې ژېړ او آبي سره ترکیب شي، شین رنګ جوړیږي. اصلي رنګونه په طبیعت کې په طبیعي بڼه شتون لري، د رنګونو د ترکیب په نتیجه کې دویم او دریم رنګ تر لاسه کیږي، ځینې رنګونه د بې طرفو رنګونو او یا د خنثی رنګونو په نوم یادیږي، دا ډول رنګونه د ګرمو او سړو رنګونو په هکله اغېزمن دي او ډېر کارول کیږي. هغه رنګونه چې د بې طرفو رنګونو په نوم یادیږي، د سړو او ګرمو رنګونو د تیاره او روښانه کولو په اړوند له هغوی ګټه اخیستل کیږي او د رنګو په حلقه کې نه شاملیږي.

# ۹ لوست

## (۱۷ او ۱۸) مخونه

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست عنوان | خیالي رسم | |
| عمومي موخې | له خیالي رسمونو سره او د هغې له رنګه کولو سره د زده کوونکو بلدتیا. | |
| - د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي.<br>- زده کوونکي به پر پنسل له خیالي رسمولو سره بلد شي.<br>- یوه خیالي منظره به پر پنسل رسم کړای شي.<br>- د طبیعي او خیالي منظرو له رسمولو سره به یې مینه پیدا شي. | |
| د تدریس طریقه | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار اوتمرین | |
| د تدریس وسیلې | رنګ، کاغذ، مویک، د اوبو لوښې، پنسل قلم، پنسل پاک او د هنر کتاب | |
| ارزونه | د خپل ډاډ تر لاسه کولو لپاره له زده کوونکو، پوښتنې وکړې. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام، احوال پوښتنه، حاضرې، د ټولګي تنظیم، د کورنۍ دندې کتل او له تېر لوست سره په اړیکه کې پر نوې لوست پیل کوي. | ۵ دقیقې |
| | انګیزوي پوښتنې:<br>د خیالي رسمونو په اړوند څه ویلای شئ. | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | وخت |
| --- | --- |
| • د خیالي رسمونو په اړه زده کوونکوته معلومات ورکړئ.<br>• د دې لوست انځور پر تختې رسم کړئ.<br>• د رسم د لرېوالي او نیږدیوالي په اړه معلومات ورکړئ.<br>• زده کوونکي د رسمولو لپاره وهڅوئ. | ۳۵ دقیقې |

**کورنۍ دنده**

خیالي منظره رسم او ټولګي ته راوړئ.

**اضافي معلومات**

ښاغلې ښوونکیه د خیالي رسمونو په اړوند زده کوونکي متوجه کړئ، د هنري موضوعاتو په اړوند فکر کول ډېر اړین دي. زده کوونکوته د یوه انځور رسمول، د لاسي کار جوړول او ډیزاین داسې ور زده کړئ، چې هغوي د هر څه په باره کې ژور فکر وکړي، فکر کول نه یوازې په هنر کې، بلکې په ټولو مضمونونو کې ګټوردي. په عملي ډول د یوه شي رسمول، جوړول او ډیزاین په اړه د پوهې او درک قوه لوړوي، نوي شیان له خپل خیال څخه رامنځ ته کوي او ګټه ترې اخلي.

## لوست ۱۹

## (۳۷ او ۳۸) مخونه

**د تدریس وخت (دوه درسي ساعتونه)** **لومړی ساعت**

| | | |
|---|---|---|
| د لوست عنوان | د ګل رنګه کول | |
| عمومي موخې | د پنسل په واسطه د ګل له رسمولو سره د زده کوونکو بلدتیا. | |
| - د زده کړې موخې<br>- پوهنیزې<br>- مهارتي<br>- ذهنیتي | له زده کوونکو هیله کیږي چې د لوست په پای کې لاندې موخوته ورسیږي.<br>- زده کوونکي به د ګل له رسمولو سره بلد تیا پیدا کړي.<br>- زده کوونکي به ګل رسم کړای شي.<br>- زده کوونکي به د ګل له رسمولو سره مینه پیدا کړي. | |
| د تدریس طریقه | ډله ییز او ځانګړي فعالیتونه، پوښتنې او ځوابونه، عملي کار او تمرین | |
| د تدریس وسیلې | رنګ، کاغذ، مویک، اوبو لوښی، پنسل، قلم، پنسل پاک او د هنر کتاب | |
| ارزونه | ښوونکي د خپل ډاډ تر لاسه کولو په موخه له زده کوونکو څو پوښتنې کوي. | |
| لومړني فعالیتونه | سلام، لنډه احوال پوښتنه، حاضری اخیستل، ټولګي تنظیم د کورنۍ دندې له کتلو وروسته له تېر لوست سره په اړیکه کې پر نوي لوست پیل کوي. | ۵ دقیقې |
| | انګیزوي پوښتنه:<br>کله مو ګل رسم او رنګه کړیدی؟ | ۵ دقیقې |

| د ښوونکي فعالیتونه | مدت زمان |
| --- | --- |
| • د گل د رسمولو او رنگولو په اړوند زده کوونکو ته معلومات ورکړئ.<br>• د زده کوونکو په وړاندې يو گل رسم او رنگه کړئ.<br>• زده کوونکي رسامۍ ته وهڅوئ.<br>• د زده کوونکو رسمونه اصلاح کړئ. | ۳۵ دقيقه |

| کورنۍ دنده |
| --- |
| په خپله خوښه يو گل رسم کړئ. |

| اضافي معلومات |
| --- |
| ښاغلې ښوونکي دې د ټولو هغو موجوداتو په باره کې چې لوی خدای(ج) په طبيعت کې پيدا کړي دي، ځانگړي ښکلا لري، په ځانگړي ډول گلان ډېره ښکلا لري، چې د کورونو دميلمستونو، باغ او باغچې د ښکلا لپاره کرل کيږي، لوی خدای (ج) د کائيناتو د پيدا کيدو په اړه پوهيږي، له ټولو موجوداتو څخه يې انسان ته د شيانو د جوړولو قدرت او توان ورکړيدی او له هغه څخه د خپلو اړتيا وو په اړوند گټه اخلي، گلان بېل بېل رنگونه، لکه: سور، ژېړ، آبي، گلابي، بنفش، سپين، قهوه يي او نور لري.<br>که چېرې انسان د گلانو رنگونو ته په طبيعت کې دقيق شي، د لوی خدای(ج) په قدرت يې باور زياتيږي. |

**ښاغلې ښوونکي په دې کتاب کې د تدريس دلار ښود د بيا ليکولو څخه ډډه شويده. تاسې کولی شي چې له دې لارښود څخه د ټولو لوستونو په تدريس کې د بيلگې په توگه گټه واخلئ.**